مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

صمیم ۲۰۲۴/۰۹/۱۵

# بسم الله الرحمن الرحیم

## پاکستان او اسراییل

## (یوه لنډه تاریخي او تقابلي کتنه)

د نړۍ ډېرى هېوادونه ملي هېوادونه (Nation States) دي چې خپلواک دولت او ډېر اتباع يې ګډ هويت لري او د يو شمېر ځانګړتياوو له امله يوځاى شوي لکه ګډه ژبه، ګډ نسل او داسي نور.
په اوسني معاصره نړۍ کې دوه هېوادونه يوازې د مذهب په بنسټ جوړ شوي او وګړي يې د نړۍ له بېلابېلو برخو ځخه ټول شوي او د مذهب په بنسټ، په غير طبيعي ډول په يوه محدوده جغرافيه کې مېشت شوي دي. دا هېوادونه پاکستان او اسراييل دي چې دواړه په شلمه پېړۍ کې هم مهاله کې جوړ شوي دي. تصادفا دا دواړه هېوادونه يو بل سره ډېر مماثلت او ګڼ مشابهتونه لري. يو لوى مشابهت يې دا دى چې د دوى له جوړېدو وروسته، ګاونډيانو ښه ورځ نه ده لېدلى. نورې مشابهتي بېلګي يې په لاندې ډول دي:

| | هېواد | پاکستان | اسراییل |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جوړښت کال | 1947 | 1948 |
| ۲ | د جوړښت ظاهري عامل: | مذهبي انګيزه (پاکستان کا مطلب کيا، لاالِه الله) د اسلام قلعه. | مذهبي انګيزه، يهوديت او د يهوديانو ستر کور او سلطنت |
| | د جوړښت اصلي لامل: | لوى هند په ډېرو برخو وېشل. | دعربانو او ترکانو زور ماتول او دا هېوادونه په بې شمېره برخو وېشل او کمزورى کول. |
| ۳ | جوړونکى هېواد: | برېتانيا | برېتانيا |
| ۴ | وګړي: | بنګاليان، پنجابيان او نور قومونه چې له مذهب پرته په خپلو کې هيڅ ډول ژبنيز او فرهنګي همغږي نه لري. | د يو مذهب لرونکي خلک له ټولې نړۍ ځخه ټول شوي (دوه تابعيته ناقلين) چې نور هيڅ ډول ژبنيز او فرهنګي همغږي نه لري. |
| ۵ | د مذهب تېکه داري: | د ټولې نړۍ د اسلام تېکه دار (ځان د اسلام کلا بلل). سياسيون او نظاميان يې ټول سيکولر او پانګوال | د ټولې نړۍ د يهوديت تېکه دار، خو مشران او سياسيون يې سيکولو او زاينستان (Zoinist) |
| ۶ | ملاتړي او ملګري: | برېتانيا او لوېديز هېوادونه | برېتانيا او لوېديز هېوادونه |
| ۷ | اټيمي وسله | لري | لري |
| ۸ | اقتصاد | جګړه او جګړه ايزي پروژې، نيابتي تنظيمونه او نيابتي جګړې. | جګړه او جګړه ايزي پروژې او نيابتي جګړې. |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | تګلاره: | په سیمه کې د لوېدیزو هېوادونو (امریکه، برېتانیا، فرانسه، جرمني او نور) د ګټو ساتنه. روسیه، هند او ایران په کنټرول کې ساتل. | په سیمه کې د لوېدیزو هېوادونو د ګټو ساتنه د فلسطینیان او د عربي هېوادونو اداره او کنټرول چې تېل او ګاز لري. |
| ۱۰ | ګاونډیانو سره اړیکې او لانجې: | خپلو ټولو ګاونډیانو (هند، افغانستان او ایران) ته د سرخوږي لامل، او له ګاونډیانو سره د دښمنۍ او عدم حسن همجواري چلند. د هند نیم کشمیر باندې قبضه او تر اټکه پورې د افغانستان په خاوره خوله پټول او ګاونډیان بې ټیکاوه او بې ثباته کول. پاکستان هند سره تراوسه ۳ ځلې نېغ په نېغه جګړه کړې. | خپلو ټولو ګاونډیانو فلسطین، مصر، اردن، لبنان، سوریه سره د عدم حسن همجواري رویه او د هغوی خاوره لاندې کول. ګاونډیان ټکول او بې ثباته کول. فلسطینیان په محاصره او بند کې ساتل. اسراییل ګاونډیانو په تل په جګړه کې ده چې دا لړۍ تراوسه روانه ده. |

داچي د دې څېړنيزې مقالې او کره کتنې اصلي هدف د پاکستان د تاریخ او سیاست ارزونه ده؛ ځکه د دې مقالې ډېره برخه پر پاکستاني موضوع تمرکز کوي چې آیا رښتیا پاکستان یو پاک او سپېڅلی هېواد دی او د هغو هندي مسلمانانو د ارمانونو او خوبونو تمثیل او تعبیر دی او که نه؟

د پاکستان عمر ۷۷ کاله دی چې لویه برخه یې له ګاونډیانو سره په شخړو او نانډریو تېر شوی دی. له بده مرغه د لوی هند د وېش پر مهال، د هغه وخت د پوځ او نظامي شتمنیو یوه لویه برخه پاکستان ته په برخه ورسېده. برېتانویانو ځان ته وفادار فیودالان، پوځیان، بیوروکراتان او سیاستوال ونازول او د پاکستان واګې یې ورته وسپارلې چې دوی ته بنه وفادار، خدمتګزار او د ډاډ وړ وو. دا خلک ستر زمکوال او فیودالان وو (د بېلګې په ډول د قریشي او مخدوم کورنی او داسې نور) چې دا اشرافیه (Elite class) تر اوسه د (Establishment) تر نامه لاندې په پاکستان واکمن او مسلط دي. برېتانویانو ته د وفادارو خلکو او کورنیو بشپړ مالومات ښاغلی سر لیپل هینري ګریفن په خپل کتاب (The Chiefs of Punjab) کې لیکلی دی. برېتانویانو د پنجاب د اشرافیه د ښوونې او روزنې په موخه یو ځانګړی پوهنتون (Chief’s College) جوړ کړی و چې اوس د (Aitchison College) په نامه یادېږي. د پاکستان ډېر پوځي او سیاسي مشران هم د دې پوهنتون نه فارغ شوي دي. په پاکستان د ۷۷ کلونو په اوږدو کې د نیم نه ډېره موده، پوځي جنرالانو د کودتا له لارې نظامي واکمني کړې لکه جنرال ایوب خان، جنرال غلام محمد، جنرال سکندر میرزا، جنرال ضیاالحق او جنرال مشرف چې هر جنرال شاوخوا ۱۰ کاله په واک کې پاتې شوی. په باقي پاتې لږه موده کې بیاهم پوځ غیر مستقیم واکمني کړې چې دا ستره لوبه تر اوسه روانه ده. واک عملا د پوځ په لاس کې دی، یوازې نوم د جمهوریت او سیاستوال کارول کېږي. په ټولټاکنو کې په ښکاره او علني درغلي کېږي او د خپلې خوښې سیاسي ګوندونه او کاندېدان بریالي او واک ته رسول کېږي. که احیانا دا لاسپوڅي او ګوډاګي سیاستوال د سرغړونې جسارت وکړي؛ نو ترور، تبعید او بندیان کېږي. وروستی بېلګه یې وزیراعظم عمران خان دی چې په بند کې پروت دی او ګوند یې غیر قانوني اعلان شوی. دا راز ښاغلی نواز شریف چې ۳ ځلې د پاکستان وزیر اعظم ټاکل شوی و، هرځل د نوموړي حکومت د پوځ لخوا پرځول شوی او نوموړی لومړی بندي او بیا تبعید ته اړ ایستل شوی. یو بل وزیراعظم چې په پاکستان کې ډېر محبوبیت او شهرت درلود، ذوالفقار علي بوټو و، چې حکومت یې ړنګ او نوموړی په غیر عادلانه توګه محاکمه او پانسي شو. د نوموړی لور بېنظیر بوټو چه هغه هم د پاکستان وزیراعظمه پاتې شوې، لومړی بېواکه او بیا ترور شوه. پاکستان کې تر اوسه هېڅ یو سیاسي ګوند خپله قانوني موده نه ده بشپړه کړې.

د پاکستان وجه تسمیه پاکوالی دی، چې د دوی په وینا د پاکستان مطلب لااله الا الله دی. دا چې تر کومه کچه پاکستان د خپل نامه ممثل او سپېڅلی هېواد دی او ترکومه حده هېواد کې اسلام، شریعت او لااله الا الله پلې او عملي شوی ښکاره او معلومه خبره ده. اسلام او مسلمانانو ته چې کوم زیان او تاوان دې تش په نامه اسلامي هېواد رسولی شاید بل کفري هېواد نه وي رسولی. مذهب یوازې سیاسي آله ده چې د پوځیانو په واک کې د پاتې کېدو او نورو نامشروعو اهدافو د لاس ته راوړنو په موخه کارول کېږي. په اصل کې د پاکستان جوړښت د یو ستر پلان برخه وه چې دې کار سره د برېتانویانو اصل هدف د لوی هند زور ماتول و چې په آسیا کې لوی تاریخي، تمدني او اقتصادي ځواک و. دې کار سره نه یوازې هندیان بلکه ګڼ شمېر مسلمانان هم مخالف و. په دې لړ کې مهاتما ګاندي او خان عبدالغفار خان ډېره هڅه او وسه وکړل چې د هند د وېش مخه ونیسي، خو برېتانویانو د غم او ناسور دا بوټی لکه اسراییل په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځېر و لولئ

سیمه کي نال کړ او پاکستاني خنجر يي د هند په سينه کي وتومبه چي د دې بوټی ميوه او پايلي اوس ښکاره لېدل کېږي.

د پاکستان بنسټګر محمد علي جناح (چي دوی ورته د يو اسلامي صوفي رتبه ورکوي او قايداعظم نوموي) يو سيکولر وکيل و چي ټول ژوند يي په لندن کي تېر کړی چي هلته په وکالت او سياست بوخت و. نوموړی په هندي يا اردو ژبه نه پوهېده. يواځېنی لور يي (دينا) يو زردشتي سره واده وکړ، او ټول ژوند يي په امريکا کي تېر او همدلته په کال ۲۰۱۷ کي وفات شوه. خپله د جناح هدف د يو سيکولر هېواد جوړښت و. په دې پروژې کي مذهب يوازې د سياسي ابزار په توګه وکارول شو چي دې کار سره هندي مسلمانان وپاروي او هند په دوو برخو ووېشي. له بده مرغه دا پروژه د مذهب په کارولو کاميابه شوه. برېتانيا د خپلو موخو او اهدافو د لاس ته راوړني له پاره د يوې اوږدې مودې راهيسي د اسلام او مذهب نوم په برياليتوب سره کاروي او دې کار سره يي تر اوسه ګڼ شمېر هېوادونه تارومار کړي. وروستی مثال يي افغانستان دی چي په تېرو ۴۰ کلونو کي افغانان د اسلام او جهاد په نامه يو بل وژني او اصلي هدف او دښمن ترې پاټي دی. د برېټانيا دويمه بريالی وسله د دښمن د زور ماتولو په موخه د خلکو او ولسونو ويشل دي. د مذهب، ژبه او توکم په نامه ولسونه او ملتونه په ډېرو برخو ويشي او خپل اهداف ترلاسه کوي. چي دا کار په عربي هېوادونو او هند کي بريالی و او په افغانستان کي هم اغيزمن واقع شو. چي له بدمرغه تر اوسه دا لړی روانه ده.

دا يو واقعيت دی چي د پاکستاني پوځيانو شمېر او ظرفيت د دې وړې جغرافيې له اړتيا څخه لوړ دی. له دې ناانډوله پوځي حجم له کبله د دې هېواد له نيم نه ډېره بوديجه پر پوځ لګول کېږي او پاتې کمه بوديجه د دې سترې جغرافيې او ۲۴۰ ميليون وګړو له پاره ناکافي بلل کېږي. همدا وجه ده چي هرکال د پاکستان بودېجه کسر يا تاوان سره مخامخېږي. چي لويه برخه يي د فاسدو سياسيونو او بيوروکراټانو له خوا غبن کېږي. اوسنی پاکستاني رييس جمهور ښاغلي آصف علي زرداري د (ښاغلي ۱۰ فيصد) په نامه نړيوال شهرت لري (ياني نوموړی په هره پروژه کي ۱۰ ٪ امتياز غواړي). همداراز هر پاکستاني جنرال او سياستوال په عربي اماراتو او لوېديزو هېوادونو کي د ميليونونو ډالر په ارزښت جايدادونه او تجارتونه لري د بېلګي په ډول (Papa John, Bajco Group) چي د جنرال عاصم باجوا ملکيت دی. په دې توګه عام ولس ورځ په ورځ بې وزله کېږي. دا لوی پوځ (Military Establishment) د خپل شتون د جواز له پاره تل خپل ولس له ګاونډيانو څخه په ډار کي ساتي او د اسلام او د وطن دوستی د عاطفي ټکو په کارولو، تل د يو لوی پوځ په ارزښت او اړتيا ټينګار کوي. وخت نا وخته ګاونډيانيو سره مصنوعي شخړي جوړوي او فرضي دښمنان پالي. دا کار د پوځ د ستراتيژی يوه اړينه برخه ده، ترڅو ولس د دې بې فايدې لوی پوځ د شتون او د هغوی د بې ځايه لګښتونو دروند بار ته اوږه ورکړي. په يوه طبيعي او نورماله ټولنه کي ولس اهميت او ارزښت لري او د حکومت يواځېنی موخه د ولسي وګړو آرامي او هوساينه وي. همدا راز پوځ د ولس په چوپړ کي وي او دنده يي يوازې د وطن ننګه او دفاع وي نه واکمني او سياست. خو د ډېرو تاريخي او سياسي شنونکو په آند پاکستان د پوځ له پاره جوړ شوی او ټول ولس او ملکي امکانات د پوځي نظام په چوپړ کي دی. د پاکستان په ډېرو تجارتي شرکتونو د پوځ قبضه ده لکه فوجي سيمنټ، عسکري بانک، سوپارکو، ښارګوټي (بحريه ټاون، ډيفنس کالوني)، واپډا او داسي نور په سلهاوو تجارتي شرکتونه د پوځ ملکيت دی. له همدې کبله د هر پاکستانی يواځينی هيله دا ده چي په پوځ کي نوکري وکړي. له همدې امله د پوځ شمېر او لګښت ورځ په ورځ ډېرېږي. له همدې امله د ډېرو سياسي پنډتانو په آند، د دې هېواد نوم بايد د پاکستان پرځای جنرالستان وای.

د پاکستان اقتصاد په اصل کي جنګي اقتصاد دی (Economy of war). او د دوی بقا او اقتصاد د خپلو ګاونډيانو سره په دايمي شخړو او ناآراميو کي نغښتي ده. پاکستان د کال ۱۹۷۰م راهيسي د افغانانو د بربادی په پروژی کار پيل کړی. پاکستان تل د افغانستان د اقتصادي او نظامي ځواک د کمزورتيا او ړنګولو له پاره ناراضي افغانانو ته پناه ورکړې او هغه يي اعاشه او اباطه کړي او نظامي روزنه يي ورکړې. او بيا کله چي شوروي په افغانستان يرغل وکړ؛ نو د ځان له بېړې امريکايان او اروپايان وهڅول چي د افغانستان په وړانولو کي ورسره مرسته وکړي. د همدې له پاره يي د خپلو بادارانو په مرسته او مشوري جهادي تنظيمونه وروزل او پر افغانستان يي ورخوشي کړل چي په دې ترڅ کي ۴ تنظيمونه د يادوني وړ دي: حزب اسلامي، اتحاد اسلامي، جمعيت اسلامي او وروستی تنظيم د طالبانو تر ليبل لاندې چي مشران يي تر اوسه نامالوم او مجهول الهويت دي.

د افغان جهاد نه مخکي د پاکستان اقتصاد ډېر کمزوری و؛ خو جهادي پروژې سره پر پاکستان د ډالر او ريالونو باران وشو او د افغان کډوالو د مرستو په نامه يي، له ملګرو ملتونو څخه بشرپاله او د نړی له ځينو نورو شمتنو هېوادونو څخه نظامي مرستي ترلاسه کولي. پاکستان د دې مرستو يوه لويه برخه ځان ته سپموله او يوه لږه برخه به يي جهادي تنظيمونو ته ورکول. دا راز د افغان جهاد پيل سره د پاکستان غوا لنګه شوه. له يوې خوا د پاکستان د دفاع

له پاره وړیا افغانان جنګېدل او له بلې خوا د پاکستان نظامي او اقتصادي وضعیت پیاوړی شو. دا چې په دې جګړه کې د اسلام پرځای د اسلام آباد ګټه وه او ټول تاوان د افغانستان و؛ نو پاکستان کله هم نه غوښتل دا لانجه ختمه او د ګټې دا ګرم بازار سوړ شي؛ ځکه چې افغان جهاد سره د اسلام پر ځای اسلام آباد، آباد شو. په دې موده کې دوی وکولای شو چې د افغانانو او افغان جهاد له برکته خپل هېواد په اټومي ځواک بدل کړي.

پاکستان له یوې خوا افغانستان د اقتصادي او نظامي اړخه کمزوری کړ، له بلې خوا د افغانستان لړ نوره خاوره لاندې کړه او ورسره په فرهنګي او کلتوري غلا هم بوخت شو. وخت ناوخته پر افغانستان ترانزیتي لاره تړل او هند سره د افغانستان د تجارت مخه نیول. هرکال په زرهاوو ټن د افغانستان صادراتي توکي او تازه میوې په تورخم او سپین بولدک کې د پاکستاني بندیز له امله ضایع کیږي. پاکستان د افغانستان ډېر مصنوعات لکه د غالیو صنعت خپل ګڼي او د پاکستاني توکو او مصنوعاتو تر نامه لاندې صادروي. پاکستان د افغانستان د لیتیم په شان ګرانبیه زېرمې، لرغوني آثار، لرګي، ځنګلونو او د ډبرو سکاره د یوې اوږدې مودې راهیسې په غیر قانوني ډول استخراج او ترې ناوړه ګټه پورته کوي. همدا راز پاکستان نه غواړي چې افغانستان دې په خپلو سیندونو بندونه جوړ کړي او خپلې وچې مځکې خړوبې او برق تولید کړي. د افغانستان میوزیم او تاریخي اسناد او آثار چور او تالان شول. همداراز پاکستان د خپلو نیابتیانو په مرسته د بودا لرغونی مجسمه ونړوله. دا چې پاکستان د ویاړ تاریخ، نومیالي توریالي نه لري؛ نو ځکه دوی د افغانستان د نومیالیو او مشاهیرو نومونه په خورا سپین سترګۍ پر خپلو وسلو لګوي لکه غوري، ابدالي، غزنوي او داسې نور.

د افغانانو غیرت او شهامت یو تاریخي واقعیت دی. افغان کډوالو کله هم په پاکستان کې وړیا او خیراتي ژوند نه دی کړی. هغوی په پاکستان کې تل زیار او زحمت ایستی، کار او مزدوري کړې او د پاکستان په اقتصادي پیاوړتیا کې فعاله ونډه اخیستې. او له بلې خوا تر اوسه بهرمیشته افغانان د خپلو کورنیو د اقتصادي مرستې په موخه پاکستان ته په میلیونهاوو ډالر او یورو لیږي. په اصل کې د افغانانو لخوا پاکستان ته د خارجی اسعارو لیږل، د پاکستان ناروغه اقتصاد سره مرسته کول دي. واقعیت خو دا دی چې د افغان کډوالو راتګ سره د پاکستان اقتصاد وده وکړه، صنعت او تجارت یې پیاوړی شو. ناویلې دې نه وي چې یو ګڼ شمېر پاکستاني وګړي اوس هم د افغانانو په نامه په لوېدیزو هېوادونو کې میشت او امتیازات ترلاسه کوي چې یوه ښه بېلګه یې، د پاکستان پخوانی وزیراعظم ښاغلی انوارالحق کاکړ دی، چې ډېره موده یې په لندن کې د یو افغان کډوال په صفت ژوند کړی او اقتصادي مراعات او امتیازات یې ترلاسه کړي دي. دریغې چې ښاغلی کاکړ د نمک حالالی پاس ساتلی وای.

دا د تاریخ جبر دی او که د افغانانو بدمرغي، چې اوس هغه هندي پنجابیان چې د پلار او نیکه نومونه یې سنګهـ او مکرجي وو او د افغانانو له برکته مسلمانان شوي، اوس پر افغانانو د جهاد فتوې صادروي، پر افغانانو کلمې تازه کوي. کال تېر نه وي، چې د پاکستان د نظامي فابریکو څخه یو نوی ماډل جهادي تنظیم، د نوی لیبل سره مارکیټ ته راځي او افغانان د اسلام او جهاد په نامه وژني. د افغانانو بدمرغي او بې وسي تر دې کچه رسېدلې، چې د یو ژوندی انسان پرځای، پر دوي مړي او تش نومونه او لیبلونه حکومت کوي. او د چا مجال نشته چې اعتراض وکړي. د افغانستان دا اوسنۍ وضعیت د یو مسلمان ګاونډي هېواد لورینه او تحفه ده. هیله ده چې افغانان د دې ګاونډی هېواد د افغان وژنې جهادي پروژې او نورو ښېګڼو او احساناتو پور هېر نه کړي!

د خپل لنډ تاریخ په اوږدو کې پاکستان تل خپلو محسنینو سره ناروا سلوک کړی. چا چې هم پاکستان سره ښه یا احسان کړی حتما پښېمانه شوی او یا هم وژل شوی. د بېلګې په ډول د پاکستان بنسټګر محمد علی جناح چې پاکستانیان ورته ظاهرا ډېر احترام لري او د قایداعظم لقب ورکوي، په ډېر مشکوک ډول په امبولانس کې سا ورکړه. ویل کیږي امبولانس ناوخته ورسېد او بل دا چې په امبولانس کې تیل نه و. فاطمه جناح د پاکستان بنسټګر محمد علي جناح خور خاینه وبلل شوه او په ټاکنو کې ورسره ټګي او درغلي وشوه. دیناواډیا د پاکستان د بنسټګر محمد علي جناح لور چې د خپل هېواد نه بهر د کډوالۍ په ژوند کې کال ۲۰۱۷ کې وفات شوه. نواب اکبر خان بوګټی د بلوڅانو مشر، چې د هند د وېش پر مهال یې بلوچستان پاکستان سره یوځای کړ او څه موده د بلوچستان والي هم و، په کال ۲۰۰۶ م کې د پاکستان د پوځ له خوا ووژل شو. ذوالفقار علي بوټو د پاکستان وزیراعظم چې د پاکستان د ایټمي وسلو بنسټګر بلل کیږي، په ټاکنو کې ورسره درغلي وشوه لومړی زنداني او وروسته د پوځیانو لخوا کال ۱۹۷۹م کې پانسي شو. ډاکټر عبدالقدیر خان د پاکستان هغه نامتو فزیکپوه چې د پاکستان د اټومي بم پلار بلل کیږي او پاکستان د نوموړي په هلوځلو اټومي ځواک شو، په خورا بې عزتۍ او بې وزلۍ په مشکوک ډول کال ۲۰۲۱ کې ومړ. عمران خان د پاکستان نامتو او د نړۍ وتلی د کرکټ ستوری او د پاکستان پخوانی وزیراعظم، بندي او سیاسي ګوند یې چې د پاکستان ترټولو ستر ګوند دی، تحریم او غیرقانوني اعلان شوی. نواز شریف د پاکستان وتلی سیاسي څېره چې ۳ ځلې د پاکستان وزیراعظم پاتې شوی او هرځل د پوځ له خوا بې واکه او تبعید شوی دی. پاتې دې نه وي چې د پاکستان په تاریخ کې هېڅ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سیاسي ګوند یا وزیراعظم خپله قانوني موده نه ده بشپړه کړې او په مستقیم یا هم غیرمستقیم ډول د قاضیانو او محاکمو په مرسته له خپلې قانوني دندې ګوښه شوی. داراز ډېر نومیالي پوهان او هنرمندان د ځان ژغورنې په موخه په بهرني هېوادونو کې د کډوالۍ ژوند کوي (د بېلګې په ډول فزیکپوه ډاکټر عبدالسلام، دیني عالم جاوید احمد غامدي، هنرمند عدنان سمیع، هنرمند استاد غلام علي او داسې نور).

د پاکستان نظامي او سیاسي څېرې اوس هم په دې خبرې معترف او یوه خوله دي چې په اصل کې د افغانستان د جهاد اصلي موخه د پاکستان دفاع و. که د روسانو یرغل مخه په افغانستان کې نه وی نیول شوی؛ نو آخري سټاپ به یې کراچۍ او ګوادر کې و! او دا چې پنجابیان څومره جنګیالي او توریالي دي هغه ټولو ته معلومه او د پاکستان نظامي تاریخ یې ګواهي ورکوي. په کال ۱۹۷۱م کې د هند سره د جګړې په ترځ کې څه د پاڅه ۹۰۰۰۰ پاکستاني پوځیانو وسله پر مځکه کېښوده او په خورا ذلت او رسوایی هندیانو ته تسلیم شول. بله دا چې د هندي کشمیر نیمه برخه چې پاکستان په ولکه کې ده، هغه سیمه پښتنو قبایلو آزاده کړې. پاکستاني پوځ د خپل ۷۷ کلن تاریخ په اوږدو کې له رسوایی او ماتې پرته کومه نظامي بریا نه ده لاس ته راوړې. دوی یوازې په ترهګریزو او نیابتي پروژو کې مهارت لري او د ګاونډیانو امنیت ګواښي او په بدل کې اقتصادي امتیاز ترلاسه کوي. له بده مرغه د پاکستان نوی کهول معاشرتي علوم په څېر نصابي کتابونه لولي (چې ټول درواغ دي). د بېلګې په ډول د څاه د چونګښې نړۍ لېد یوازې د څاه چاپېریال دی. دا کهول د جګړې د وېجاړې او د خپل رښتني تاریخ او د افغانانو د لویې قربانۍ نه بې خبره دي. افغانانو د خپل ګران هېواد د ویجاړولو او د خپلو ۲ میلیونو پاکو شهیدانو د غوښو په بیه ځانونه د هغه وخت زبرځواک (شوروي اتحاد)، چې د ټولې مینځنۍ آسیا له فتحې وروسته افغانستان ته رسېدلی و، په خورا مېړانه د تورو پنجابیانو پر وړاندې ځانونه سپر، سپېلني او بلاګردان کړل او په خپلو لاسونو یې خپل هېواد خاورو سره خاورې او په میلیونونو نازولي افغانان یې بې کوره، بې وزله او کډوالۍ ته اړ کړل. چې اوس د نړۍ په ګوټ – ګوټ کې خواره واره په بې کسۍ او بې وزلۍ کې پراته دي. دا افغانان چې د پاکستان د ناپاکو ارادو او د خپل انجام نه بې خبره و، په خورا اخلاص جهاد وکړ او پاکستان یې د شوروي اتحاد د یرغل څخه وژغوره. (ناویلې دې نه وي چې اصل کې د شوروي اتحاد افغانانو سره کومه ترېګني یا دښمني نه وه؛ بلکه غوښتل چې ځان پاکستان او ګرمو اوبو ته ورسوي، خو افغانانو یې لاره ډبه کړه او مانع شول. افغانانو کولای شول چې لاره ورخلاصه او پنجابیان خپل دفاع خپله کړې وای (سیلاب جاني اور پنجاب جاني)، یانې پنجاب به شه او سیلاب به شه. که مونږ شوروي ته لاره ورکړې وای؛ نو مونږ به لېوانو نه و خوړلي. حد اقل دومره خوار او ذلیل به نه و لکه چې نن یو. دوه میلیونه شهیدان، وطن لوټي-لوټي. افغانستان په نړۍ کې بې عزته او بې حیثیته شو. نن افغاني پاسپورټ د نړۍ ترټولو بې اعتباره پاسپورټ پېژندل کېږي. پخوا به افغانان بې ویزې اروپا ته تجارت، سفر او ټګ راټګ کاوه. خو نن افغانان د پاکستان ویزه نه شي ترلاسه کولای او افغان کډوال په خورا بې عزتۍ د پاکستان څخه رټل او شړل کېږي. نن د ټولو مېنځنې آسیایي هېوادونو وضعیت د افغانستان څخه په مراتبو ښه دی او تراوسه په اسلام او خپلې عقېدې ټینګ ولاړ دي.

اوس چې پاکستان خپل یوه برخه ستراتیژک، نظامي، سیاسي او اقتصادي اهداف ترلاسه کړي. لومړی یې پر افغانانو پوله وتړله، او بیا یې په خوارۍ وشړل. پخوا به چا پاکستان ته وړیا سفر نه کاوه، خو اوس یوه پاکستاني ویزه په زرهاوو ډالر پلورل کېږي او په ډېرو واسطو او ننواتو ترلاسه کېږي. او بله خوا هغه افغاني کډوال چې د دوی د پاکستان سپر او بلاګردان و، او د پاکستان د دفاع او ژغورنې لویه کارنامه یې تر سره کړې وه، اوس په ډېرې بې پتۍ او بې عزتۍ د پاکستانیانو لخوا چې ځان ته به یې د انصار مدینه نسبت کولو، ویستل کېږي. اوس دا انصار مدینه افغان مهاجرین له خپلو کارونو او کورونو څخه په زوره باسي. افغان کډوال حق نه لري چې خپله شمتنې له ځانه سره یوسي. که دا د اسلام ټیکه داران، انصار مدینه او د اسلام پتنګان او ګل خانان چې د خپل تاریخ او فرهنګ نه پردي او بې خبره پاتې دي، لږ زیار وباسي او د افغان جهاد تاریخ، د پاکستاني جنرالانو کتابونه او اعترافي ویناوې واوري (لکه جنرال ضیاءالحق، جنرال اختر عبدالرحمن، جنرال مشرف)، او د افغانستان په بربادۍ او تباهۍ کې د خپلو مشرانو رول او لاسوهنه و ارزوي؛ نو کله به هم د افغانانو د قربانۍ لوی احسان هېر نه کړي. که د افغانانو مېړانه او جهاد نه وای، اوس به د پاکستاني مشرانو د نومونو په پای کې (وف) ټکې اضافه شوي وای. لکه څنګه چې د مېنځنې آسیایي هېوادونو د وګړو د نامه په پای کې (وف) لیکل کېږي. د بېلګې په ډول د ښاغلی انوارالحق کاکړ نوم به اوس شاید کاکروف و. دا چې نمک حرام خوک دي، باید ځان وپېژني. ویل کېږي چې کوږ بار منزل ته نه رسېږي. اوس به ګورو چې د پاکستان دا کوږ بار منزل ته رسي او که به د خپلو غلطو پالیسیو درونډ بار لاندې دفن شي؟ دا خبره به وخت جوتوي. د یو یهودي ریاست (اسراییل) نه شاید ګیله و نه شي، خو د یو هم مذهبه، مسلمان، انصارمدینه او د اسلام د ټېکې دار نه د یو ګاونډي په توګه هرومرو ګیله کېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پرديو د جګړو يوه ځانګړتيا دا ده چې په دې جګړه کې تل د بل اوږه کارول کېږي. هرکله چې اوږه ستا او ټوپک پردی وي؛ نو پوه شه چې جنګ پردی دی. هرڅوک چې د پرديو د ګټو له پاره جنګېږي، هغوی به د افغانستان او اوکراين په څېر وي. پردي يوازې ستا اوږې ته اړتيا لري. اوکراين هم دا تېروتنه وکړه او خپل ګلالی وطن يې له خاورو سره سم او د ۲ کلنو په اوږدو شاوخوا نيم ميليون ښکلي ځوانان د مرګ منګلو ته وسپارل او اوس سولې او پخلاينې ته ليوالتيا ښايي. ښه به دا وو چې بې پرې پاتې وای او د پرديو ټوپک ته يې اوږه نه وای ورکړای. همداراز ويل کېږي د پردی کټ تر نيمې شپې وي. چې کله هدف حاصل شي، نه کټ وي او نه هم ټوپک. هم دا کار له افغانانو سره وشوه اول ټوپک ترې واخيستل شو او اوس کټ ترې اخيستل کېږي (افغان کډوال له پاکستانه شړل کېږي).

خدای دې وکړي چې دا ښېده قام اوس ويښ شي. يوازې د اسلام او د جهاد په نامه د هرچا جګړې ته اوږه ورنه کړي (جهاد افغانستان دفاع پاکستان). امپرياليزم تل د خپلو اهدافو او ګټو د لاس ته راوړلو په موخه د لږکيو او مظلومو قامونو د مشروع خوځښت او غوښتنو ملاتړ او ورسره نظامي او اقتصادي مرسته کوي او دا راز هغوی پاڅون او جګړو ته هڅوي. دې کار سره دوی په غيرمستقيم او ارزانه ډول خپل اهداف ترلاسه کوي. او کله چې خپل اهداف ترلاسه کړي؛ نو دا بې وسه خلک بې آسرې په ډاګ پرېږدي. د بېلګې په ډول: خپلواکي، ديموکراسي، انساني حقوق، د ښځو حقوق، د بيان آزادي، مذهبي آزادي، د لږکيو حقوق او داسې نور چې ظاهرا اخلاقي او انساني بڼه لري. وخت د دې رارسېدلی چې افغانان خپل او پردی، دوست او دښمن وپېژني، او له دې وروسته له پرديو څخه يوازې قلم واخلي نه ټوپک.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ